# د شیتکو تاریخ

# The History of Shitak Tribe

Yousaf Khan Jazab [1]

Shitak tribe of the Pashtoon people, at the moment, resides in district Bannu of Khyber Pakhtunkhwa. In the dust of history, the word Shitak has been used for various pashtoon tribes therefore, historians, especially western scholars, engaged in hot discussion about it but now it is beyond doubt that this tribe is nowadays called Banutsi بنوڅي. In this research article, this very word has been traced and analyzed from various angles. It seems that the term was used for the whole Karlanri tribe of Pashtoon people in the beginning however, with the passage of time it restricted to Banutsi, Dawar and Khattak tribes of the Karlanri branch. But now, the word Shitak encompasses only the former tribe.

**Key words:** Shitak, Banutsi, history, Karlanri, Pashtoon

## د شاتک یا د شیتک د لفظ اولنی استعمال

د دې لفظ ورومبنی استعمال د پښتنو په معلوم تاریخ کښې د بنوڅو په حواله راغلی دے نو ځکه دلته د پښتنو د دې قبیلې په حقله معروفې نظرئې وړاندې کېږي:

یوه نظریه دا ده چې د بنوڅو ستر نیکۀ چې شیتک نومېدو یوه ښځه بانو نومېده د شیتک د دې ښځې نه اولادونه بنوڅي نومېږي یعني د بانو اولاد، د بانو دا اولاد چې کله هغې علاقې ته راغلو په کومه کښې چې دوي نن میشته دي نو دا علاقه هم د بانو د اولاد په مناسبت سره "بنو" شوله (۴)-

دویمه نظریه دا چې د اسلام د ظهور نه مخکښې د دې علاقې راجا یو هندو وۀ چې ست رام نومېدو د دۀ لور بانو نومېده دې راجا خپله لور خپل ملازم "دهني نام" ته وادۀ کړله بانو د ملازم سره وادۀ د ځان توهین وګڼلو او بددعا ئې وکړله بددعا قبوله شوله او د دې علاقې خلق د سخت باران او

1 Assistant Professor of Pashto, HED (Colleges) Khyber Pashtunkhwa, Government Post Graduate College Bannu

برلی په نتیجه کښې هلاک شول د ست رام د لوربانو په وجه دا علاقه د بنو په نوم معروفه شوله (۵) او استوګن ئې د بنوځو په نوم مشهور شول -

دریمه نظریه دا ده چې بانه، سئیو، ګهیو او تیهو څلور ورونه وو چې د هند بن حام له نسل څخه وو د بانه اولادونه بنوڅي دي (۶)-

دا سیمه د رستم، چې د ایران د زال بادشاه زوي وۀ په ولقه کښې وه په هغه وخت کښې به دا علاقه "اکره" بللے شوه رستم "اکره" خپلې خور "بانو" ته په جهېز کښې ورکړې وه په دې مناسبت سره د دې سیمې نوم بنو شولو (۷)-

اګر که په دې ټولو نظریو کښې وړومبۍ نظریه معروفه ده یعني دا چې بنوڅي د شیتک د زوجه اول بانو اولادونه دي ولې ماته داسې معلومېږي چې د دې علاقې نوم ډېر مخکښې هم "بنو" یا دې لفظ ته نږدې څه وۀ او دا محض یو اتفاق دے چې د شیتک هغه اولاد چې د بانو نه وۀ هم دلته اباد شولو په دې حقله بحث مخکښې راځي په نورو لفظونو کښې دا وئیلے شو چې اګرکه د دې علاقې نوم ډېر پخوا راسې بنو وۀ او د تاریخ په اوږدو کښې پکښې مختلف قومونه میشته شوي دي ولې هغوي د دې خاورې سره په څه نسبت نۀ دي یاد شوي تر دې چې د بانو ذوذاد راغلل او دلته آباد شول او ځانونه ئې بنوڅي یا بنوزي وبلل یعني د لفظ "بنو" تعلق به شاید د بنوځو سره وي خو د دې ځمکې سره ئې هم تړون پخوانے ښکاري ځرنګه چې دلته بنوڅي میشته دي او د سیمې نوم بنو دے دلته که هني، منګل او ختېک وو او که هندوان یا د بدهـ مذهب پېروکار وو خو د سیمې نوم بنو وۀ چې تائید ئې د اولنۍ نظرئې نه بغېره د نورو نظرئیو څخه کېږي چیني زائرین فائي هیون (Fai Hiun) او هیون ځانګ (Hiven Tsang) دې وادۍ ته پونا (Pona) وایي دا نوم د جدید بنو نه ډېر لرې نۀ دے، د اسلام په وړومبۍ دوره یعني ۴۴ هـ کښې د عربي حاکم ابن سمره یو قوماندان المهلب بن ابي صفره په "البنه" او "الاهوار" حمله کړې وه (۸) او د بهادرشاه ظفر کاکاخېل صاحب په نزد دلته د "البنه" نه مراد هم ننني بنو دے ولې مېجر راورټي په مدلله توګه ثابته کړې ده چې دا خبره غلطه ده د دوي په خیال دا لفظ "الاهواز" دے چې د خوزستان سره تعلق لري او د بنو نوم محض د افسانې د وضع کولو په غرض وضع کړے شوے دے (۹) د خبرو لنډیځ دا دے چې د بنو ځمکه به په هم دغه نوم موجوده وي مګر په دې سلسله کښې مونږ د معلوم تاریخ نه څه مدد نۀ شو اخستلے -

## زړې تذکرې او لفظ شیتک

مخکښې دا خبره شوې ده چې بنوڅي ځانونه د شیتک اولادونه ګڼي په شیتکو کښې فقط بنوڅي شامل نهٔ دي بلکه داوړ او تني هم د شیتک ذوذاد دي د صاحبِ مخزنِ افغاني مطابق شیتک د کړلانړ زوي وهٔ چې ځینو ئې نوم ککے هم یاد کړے دے (۱۰) ولې مؤلفِ حیاةِ افغاني شاه فرید المعروف شیتک د ککي زوي او د کړلانړ نمسے بولي (۱۱) شېر محمد ګنډه پور صاحب د شیتک سم نوم لکه د محمد حیات خان شاه فرید ګڼي خو د یو بل قول مطابق شاه عطا ئې هم یادوي چې د وخت د تېرېدو سره شاه عطک او بیا شیتک شولو (۱۲) که دا لفظ د شاه عطا نه جوړ شوے وي نو بیا خو خبره سمه ده البته که اصلي نوم شاه فرید وي او شیتک ئې عرف وي نو په دې سلسله کښې ګنډه پورصاحب یوه واقعه لیکلې ده چې د شیتک د پیداوښت په وخت د دهٔ مور مړه شوله، د بلې ښځې له شودو نه بیمار شولو نو د طبیبانو د رائې مطابق ورته د خرې پۍ ورکړے شولې پیو ته په فارسۍ کښې "شیر" وایي په دې سبب شیرتڼ څخه شیتک جوړ شولو (۱۳) ګل ایوب خان سیفي صاحب د شیتک یو نوم شرف الدین هم یادوي (۱۴) که مونږ د لفظ شیتک جائزه واخلو نو د بره ذکر شویو نومونو نه دوه خبرې مخې ته راځي:

اول: شاه فرید یا شرف الدین د شیتک خپل اصل نوم وهٔ او شیتک ئې عرف وهٔ –

دویم: د شیتک لفظ له شاه عطا څخه جوړ شوے دے او عرف ئې نهٔ وهٔ –

مګر زما خپل ذهن دې طرف ته ځي چې شیتک به شاتک (Shatak) وي دې سلسله کښې مخکښې په تفصیل سره بحث کېږي –

د شیتک درې ښځې وې اولنۍ ښځې بانو نه ئې کیوي او سوراني زامن لرل، له دویمې څخه ئې داوړ او تني اولادونه وو او له درېمې نه ئې جبلم یا ظالم او هوید درلودل، موجوده بنوڅي تقریباً هم د دغو پلارونو اولادونه دي چې په بنو کښې په مختلفو سیمو کښې ویرشوي دي چې څنګه څنګه وخت تېرېدلو لکه د نورو قبیلو په بنوڅو کښې هم خلق راګډ شول او اوس چې دلته څوک هم کلیمه وایي، بنوڅے دے، د مغل سلطنت د زوال سره څه مغل او یوسفزي هم دلته دېره شول وروستو د نادرشاه او احمدشاه په وخت کښې هم له دراني عسکرو څخه څه خلق دلته پاتې او اباد شوي دي دا

سلسله د تیمور شاه تر مرګ (۱۷۹۳ء) پورې راوچلېدله (۱۵) نن دا ټول خلق بنوڅي بللے کېږي او عامو خلقو ته دا پته نۀ لګي چې اصلي بنوڅي یعني د شیتک او بانو اولادونه کوم دي -

د شیتک تعلق د پښتو ژبې محققینو او د انسابو ماهرینو په نزد کرلاني قبائلو سره دے خو د دې نه مخکښې چې د کرلانۍ قبیلو ذکر وکړو دلته دا وضاحت ضروري ښکاري چې اول د کرلاڼ وضاحت وکړو صاحبِ تاریخ خان جهاني ومخزنِ افغاني د دې لفظ په حقله لیکي چې د اورمړ قبیلې دوه کسان عبدالله او زکریا د ښکار له پاره د مېرې په لور تللي وو یو ځاي چرته چې یوۀ کاروان شپه صبا کړې وه، عبدالله ته بالټۍ (کړاېي) او زکریا ته یو ماشوم بچے په لاس ورغلو چې هم په دغه شپه زېږېدلے وۀ چونکه د زکریا خپل زامن ډېر وو او د عبدالله زامن نۀ وو نو دواړو په ښه خوښي بچے او بالټۍ سره بدل کړل په پښتو کښې دې بالټۍ ته کړاهي وئېلے شول، عبدالله په دې رعایت سره دې هلک ته کراني وئېل چې وروستو ترې کرراني جوړ شولو عبدالله اورمړ د دې ماشوم تربیت وکړلو او چې کله بلوغ ته ورسېدلو نو د خپلې قبیلې یوې جینۍ سره یې ورته وادۀ وکړلو د دې جوړې نه ډېر اولادونه پیدا شول (۱۶) محمد حیات خان افغاني همدغه خبره سره د دومره تغیره لیکلې ده چې عبدالله اورمړ دا بچے د کړاهي لاندې موندلے وۀ او خپله لور ئې ورته په نکاح کښې ورکړې وه (۱۷) خو دا خبره درسته نۀ معلومېږي ځکه خو مؤلفِ حیاۃِ افغاني هم ورته د شک په سترګه کتلي دي او لیکلي ئې دي چې دا واقعه له امکانه لرې او د قیاس نه بهر ده (۱۸) دا خبره وضعي او د قبیلوي تعصب نتیجه ښکاري د پښتنو قبیلو تر منځه دا قسم د تعصب نه ډک مثالونه نور هم موندلے شي دا د ذهن اختراعګانې د هغو وختونو سره تعلق لري چې پښتانۀ د بې اتفاقۍ ښکار وو او په یو بل ئې چپاوونه کول جنګ جګړې به ئې سره کولې، او په یو بل پسې به غلطې قیصې او خبرې منسوبولې چې نتیجه ئې یو بل د پاره نفرت او دښمنۍ په شکل کښې څرګنده شوه دا خبره بې بنیاده او هیڅ تاریخي او لساني سند نۀ لري او داسې ښکاري چې چا په بدنیت وضع کړې ده ځکه خو ورته کېرو هم د شک په سترګه کتلي دي او د پښتنو په حقله د هند تاریخ لیکونکیو په بابله ئې لیکلي دي:

"په شجرو کښې ښایي دا مشهور نومونه (د کرلاني قبائلو پلارونه نیکونه) په وروستۍ مرحله کښې ورننه ایستل شوي دي د دوي عام نوم کرلاني دے د

دهلي ليکوالو د دوي پحقله ډېر معلومات نۀ درلودل، يوازې ئې د دوي د روه غرني او غښتلي سوارکاران بلل او د دوي ئې چندان ښه نوم نۀ اخيستلو" (۱۹)

حقه خبره دا ده چې کړلاني قبائل درانۀ او عزتمند پښتانۀ دي چې په ځه حواله هم د نورو پښتنو نه کم نۀ دي د کړلاڼ د اصل نسل پحقله د دوست محمدخان کامل صاحب تحقيق د ستائينې وړ دے دوي ليکي چې خوشحال بابا او افضل خان صاحب تاريخ مرصع کړلاني په سړبن پورې تړي ابوالفضل ئې په آئينِ اکبري کښې د غورغشت اولاد ګڼي، صاحبِ مخزنِ افغاني ئې په سړبن، غورغشت او بيټن کښې ذکر نۀ کوي مګر د کړلاڼ ذکر هلته کوي چرته چې د غورغشتيو ذکر کوي د دې نه کامل صاحب په دې نتيجه رسېږي چې د دې نه دا جوتېږي چې کړلانيان په غورغشتيانو کښې حسابېږي ( ۲۰) کېږو چې کړلاني پښتانۀ بولي او په پښتنو او افغانانو کښې فرق کونکے دے، کړلاني له افغانانو پخواني ګڼي (۲۱) د ښاغلي قيام الدين خادم تحقيق په دې سوا معلومېږي دوي چې په کړلاڼ کومه حاشيه ورکړې ده په هغه کښې ليکي: "کړلاني پښتانۀ قومونه د (قيس) له پښته نۀ دي بلکه وروستيو مؤرخينو ورپورې ملحق ګڼلي دي کړلاني چې اوسني پښتانۀ ئې کړه بولي زښت ډېر دي نو ګويا د تاريخ بنياد په دوي پورې اړه لري او دوي سهاک دي دا بله خبره چې (قيسيان) هم کاسيان دي او کاسيان سهاک دي" (۲۲) -

د کړلاڼ پحقله د بحث نه دا خبره جوته شوله چې کړلاڼ د پښتنو يوه ګوښې پښه ده چې ډېر پښتانۀ قبائل ورپورې منسوب دي د بنوڅو تعلق هم د کړلاني قبائلو ځخه دے د بنوڅو نه علاوه په دې قبائيلو کښې دلازاک، اورکزي، منګل، بنګښ، خوګيانې، افريدي، خټک، وزير، مقبل، ځائې، داوړ، ځدران او اتمان خېل هم شامل دي خادم صاحب په دې کښې مروت هم شامل کړي دي (۲۳) چې غلطه خبره ده مروت د بي بي متواولاد دے چې د شيخ بېټن د لور له طرفه په اولاد کښې راځي -

## د تاريخ په اوږدو کښې شيتک

مونږ چې د شيتکو د تاريخ پلټنه کوو نو کم وبيش اووۀ سوه کاله نه اخوا د دې قوم پحقله هيڅ نۀ وينو د بنوڅو د تاريخ دا عرصه د بنو ځمکې او د شوال د غرو سره تعلق لري خو دا د بنوڅو انفرادي

تاریخ دے چې د کړلانړ د یوې ښنې په حبث ئې دا قوم لري ولې دا موده دومره کمه ده چې نۀ خو پکښې د دومره لوې قوم تشکیل کېدلے شي او نۀ ئې په ژبه (لهجه) کښې له نورو دومره تغیر راتلےشي ځکه مونږ مجبور یو چې څه په شا وګورو، په دې سلسله کښې د مشهور یوناني مؤرخ هېروډوټس حوالې هم راوړلې شوې دي دا مؤرخ د هخامنشیانو حکومتونو او خلقو په لړ کښې ساتاګوداي (Sattagudai)، ګانداریوي (Gandarioi)، دادیکاي (Dadikai) او اپاروتاي (Aparutai) راپېژني چې د هخامنشیانو په اوومه صوبه کښې پرتې قبیلې وې د ښاغلي کېرو په خیال دا اووم ولایت د ګندهارا (Ghandhara) دے چې د دارایوش په لیکنو کښې ئې ذکر شته او هېروډوټس ئې د پکتویک (Puktuick) په نامه یادوي (۲۴)، د ساتاګوداي پحقله ښاغلي کېرو د بېلیو (Bellew)، ګرشمان (Grishman) او راورټي (Raverty) خیالات داسې بیان کړي دي:

"ساتاګوداي (Sattagudai) د لفظ مفهوم په یوناني ژبه کښې د پخوانۍ پارسۍ کلمې (ساتاګوش) ژباړه ده چې هخامنشیانو په لیک شویو ډېرو کښې د یوۀ ولایت نوم دے د دې دقیق موقعیت روښانه نۀ دے خو په ختیځو سیمو کښې د هغې ذکر د هند، اراکوزیا (قندهار) او ګندهارا په ګروپ کښې راغلے دے ګرشمان (Grishman) هغه د اباسین غرب او د ګندهارا جنوب ته ښیي په موډرنه جغرافیه کښې تقریباً د ننني کوهاټ، بنو، ډېره جات او وزیرستان سیمه څرګندېږي دا هغه سیمه ده چې دلته زیات شمېر خټک اوسېږي ---- بېلیو د پښتو او پختو تر مېنځ توپیر مني او وایي چې دا قبیله کېدے شي چې شاتک تلفظ شي او هغه له (Sattagudai) سره بولي (دا خیال) د راورټي د انتقاد وړ دے راورټي دلته حق په جانب دے چې خټک لومړے تورے ئې خ Khe ښودلے او Khin (ښ) یي د پښتو د Shin ش په ځاي ډیالکټي بدلون ښودلے دے خټک هیڅ کله ځانونه شتک Shatak نۀ بولي" (۲۵) -

ښاغلے کېرو، داسې ښکاري شیتک او بنوڅي او داوړ دواړه (او هم خټک) Sattagudai بولي، لکه چې د دې مخکښې پیراګراف په جریان کښې لیکي :

"مګر ببلیو او راورټي دواړو دا هېره کړې ده چې دلته یوه بله مشهوره قبیله هم شته چې کرلاڼي ته منسوب وه او له خټکو سره د موقعیت او نسب په لحاظ په تېره بیا له شیتک سره نږدې اړیکې لري شیتک هغه قبیلو ته خطاب دے چې عموماً په توچي او بنو کښې اوسېږي او خلق ئې داوړ او بنوڅي بولي ---- د دوي پراخوالے او د دوي زیات شمېر نفوس او د دواړو قبیلو تړون او اړیکې د بنو او توچي له سرو چینو سره د دواړو کورنیو د خلقو ارزښت راښیي دوي په توره شپه له کوم بوټي څخه نۀ دي راشنۀ شوي --- ساتاګوش Satagush ښايي د دې سیمې په شاوخوا کښې د کوم ځاي نوم وي دا د تورې شپې ټوپ دے خو کېدے شي چې د هخامشیانو په ساتاګوش او د هېروډوټس په ساتاګوداي Sattagudai په پلټنه کښې نۀ یوائې فونیټک توپیرروښان شي بلکه د یوې لوې قبیلې د ټولېدو ځاي تشبیب شي د ډېرو قبیلو ځانګړي نومونه د مغولو له زمانې څخه را په دېخوا پېژندل شوي او لا نور هم امکان لري" (۲۶) –

د ساتاګوداي قبیلې یا صوبې چې کوم ځاي ځائیګے ګرشمان Grishman )) ښودلے دے دا د کرلاڼي قبیلو مرکزي ځاي دے مېجر آر تي ایي رجوې اګر که د دې قبیلې څخه خټک مراد ګڼي مګر د دې قبیلې استوګنه د سلیمان غر او د اباسین ترمینځه یادوي (۲۷) چې همهغه علاقه ده چې ګرشمان ئې یادونه کړې ده –

په پورتنیو کسانو کښې زیات کسان د ساتاګېدیه څخه خټک مراد اخلي د ښاغلي کېرو رجحان دې پلو لیدۀ شي چې ګڼي دا نوم خټکو، شیتکو او داوړو د پاره دے د دوي دا شک بې ځایه نۀ دے په دې سلسله کښې قیام الدین خادم صاحب لیکي: "خټک او شیتک د یوۀ لغت دوه لهجې برېښي ځکه د /خ/ او /ش/ لهجوي اختلاف تر اوسه په پښتو لغاتو کښې په پراخه اندازه لیدل کېږي او له (شیتک) څخه په اسانۍ سره (سیتي) فکر ته رائي چې د سهاکو د تاریخي نومونو له جملې څخه دے" ( ۲۸) –

د پېښور او د قندهارۍ لهجو په تعین کښې د /ښ/ اواز لوي رول لوبوي ځینې ځاي د کوټې لهجې خلق /ش/ استعمالوي هلته د پېښورۍ لهجې خلق /خ/ ادا کوي، داسې معلومېږي چې اصلي

لفظ شاتک یا شیتک (Shatak) وي او پېښوریانو به په ختک بدل کړے وي نو فطري خبره ده چې لیکلے به ئې هم ختک وي باید څوک اووايي چې "ختک" نۀ "خټک" پکار دے نو د دې ځواب دا دے چې /ت/ او /ټ/ قریب المخرج اوازونه دي او د پښتو په معاصره ژبپوهنه کښې د دې صوتي تبادل ډېر مثالونه پیدا کېدے شي په نورو لفظونو کښې دا وئیلے شو چې شیتک او خټک یو خلق دي چې په اصلیت کښې شتک (Shatak) دي چې وروستو سره جدا شوي دي ولې دلته زما ذهن کښې د شک یو بل سپندخ سر وهي هغه دا چې تقریباً دوه زره او درې سوه کاله مخکښې به د خټکو او شیتکو ابادي دومره وي چې د سلیمان غرۀ نه تر اباسین پورې علاقه ئې نیولې وي؟ حال دا چې دوي اوس هم په دغه ټوله سیمه نۀ دي حاوي نو داسې ښکاري چې شتک (Shatak) باید هغه څوک وي چې ټول کړلاني قبائل په خپله ستره غېږه کښې ځایوي بابر په ۱۵۰۵ء کښې د بنګښو، بنوڅو، مروتو او نیازیو په سیمه تېرېږي ولې چرته هم د خټکو ذکرنۀ کوي البته بنو کښې کړاني یادوي دلته د دوي د یوې غټې قبیلې یعني د خټکو ذکر نۀ کول دا ثابتوي چې همدغه د بنو کړاني هم شیتک دي او هم خټک، ار ټي اي رجوې همدغه خلق اصلي پښتانۀ بولي (۲۹) چې پخپله سیمه کښې د یرغلګرو نه په امان وو او نور پښتانۀ د دوي په ولجه کښې وو البته پخپله مرضي ئې د یو ځاي نه بل ځاي ته نقل مکاني کړې ده ظفرکاکاخېل صاحب هم تقریباً دغه رائې لري چې کړلاڼ تر ډېره حده پخپل اصلي او قدیم حال پاتې شوے دے (۳۰) -

د اسلام نه مخکښې د شیتکو کړۀ وړۀ مونږ فقط د هېروډوټس په ساتاګېدیه کښې وینو د دې نه پسته لکه د نورو پښتنو او افغانانو د دوي تاریخ هم په تیارو کښې دے د سکندراعظم نه پس د ګندهارا وادۍ د موریا (Mauryan Dynasty)، ګریکو باختر (Gracco Bactrian) ، ساکا (سیتهن)، پارتین (Parthian) ، یوچي (Yueh Chi) او د هنز (Huns) په قبضه کښې راغلې ده خو لکه چې مخکښې ولیکلے شول چې د نورو پښتنو او افغانانو په مقابله کښې دا پښتانۀ کم متاثر شوي دي خو هغه مسکوکات، سکې او اثار چې په دې منځنۍ منطقه کښې موندلې شوې دي د هغې نه د کړلاڼ پښتنو پحقله دومره وئېلے شو چې دوي په دې وختونو کښې زردشتي، بودهیان او برهمنیان پاتې شوې دي (۳۱) -

اوومه صدۍ عيسوي کښې د اسلام دين خورېږي د خپلو انقلابي تعليماتو له کبله د دې دين روښنايي د پښتنو تر سيمې رارسي ولې په يقين سره نشو وئيلے چې په دغه وخت کښې شيتک په څۀ حالت کښې وو د شيتکو په حواله د ترورږمۍ دا دور تر ديارلسمې صدۍ عيسوي پورې رسي په دغه وختونو کښې سبکتګين بادشاه او د دۀ اولاد د پکتيا علاقې نيسي او په هندوستان حملې کوي ورپسې غوري خاندان راځي، پښتانۀ د دوي په ليډرۍ کښې له اغيارو سره جنګېږي او بيا هلته په هند کښې ميشتۀ کېږي په دې ټوله موده کښې به يقيناً چې شيتک لکه د نورو پښتنو د دې بادشاهانو سره اوږه په اوږه جنګېدلي وي ولې هر کله چې دا يوه وړه قبيله وه نو تاريخونه د دوي په بابله خاموش دي ځکه نو په دعوي سره څه وئيل به د خطرې نه خالي نۀ وي -

په ديارلسمه صدۍ عيسوي کښې چنګېزخان د عالمِ اسلام له پاره د وحشت او بربريت علامت جوړ شوے وۀ هرکله چې افغانستان د تاتاري حملو لاندې راغلو نو د پاکستان په مغربي سرحد استوګن پښتانۀ له خپل ټاټوبي څخه په هجرت کولو مجبور شول همدغه صدۍ د پښتنو د اکثرو قبيلو د نقل وحمل صدۍ ده د ذکر شوې پېړۍ په ابتداء کښې د لودهي او سوري ځينې قبيلې د غور نه سليمان غرۀ په لور خوځېږي او د قندهار ګندهاريان (خاخي او غورياخېل) اول Tarnak او Arghsan دريابونو په غاړه ميشتۀ شول او بيا ترې څه قبيلې کابل ته ورسېدلې، کړلانۍ قبيلې منګل او هني له بيرمل زغلي او بنو کښې ابادېږي د بنو په لور د ختټکو د حرکت وخت هم دغه دے (۳۲)

## بنو او شيتک

دلته بايد دا وضاحت وشي چې پښتنو د کوچيانو ژوند تېرولو او هم په دغه ننۍ د اوسېدو منطقه کښې به کله بره او کله کوزه تلل چې مخکښې د ګندهارا په نوم ياده شوې ده په دې تګ راتګ کښې ورسره د نورو قومونو د اختلاط نه هم انکار نشي کېدلے، شيتک د هجرت نه مخکښې چرته اباد وو نو زما خيال دے چې د شيتکو يوه پښه چې تېي نومېږي په خوست افغانستان کښې اوسېږي ځکه نو دا خبره قياس ته نږدې ده چې شيتکو به همدغلته چرته ګذران کولو په هر حال شيتک تقريباً ۱۲۷۵ء کښې د هجرت نه پس په شوال کښې اباد شول د وخت د تېرېدلو سره دلته داسې حالات پيدا شول چې شيتک له دې ځايه هم په کوچ کولو مجبورشول يو خو دلته دوي د خپلو تربرو وزيرو

سره دښمني پيدا شوې او بل په بنو کښې هني او منګل قبيلې چې دلته له دوي نه مخکښې ميشتۀ وې او په څنګ کښې ورسره خټک هم اوسېدل، د خپل پيرشېخ محمد روښان حکم منلو نه سرغړونه وکړه نو هغوي د شيتک زامن راوبلل او دارنګ بنو بنوڅو په قبضه کښې کړه دوست محمدخان کامل صاحب د دې واقعې د تاريخ پحقله په حاشيه کښې ليکي: "پلاوډن د شيتکو يلغار په ۱۳۰۰ء کښې بيانوي مګر تهاربورن ليکي چې دا واقعه تقريباً په ۱۳۷۵ء کښې پېښه شوې وه زما خيال دے چې شيتکو به د بنو طرف ته په ذکرشوې صدۍ (څوارلسمه) په اخري ربع کښې رجوع کړې وي" (۳۳) ـ

د تهاربورن خبره وزني معلومېږي ځکه چې که بنوڅي چې د شيتکو يوه برخه ده شوال ته ۱۲۷۵ء خواشا کښې هم راغلي وي نو لازماً به ئې دلته د خپلو تربرونو سره څه موده، چې سل کاله جوړېږي، تېره کړې وي نو چرته پسته يعني تقريباً په ۱۳۷۵ء کښې به بنو کښې په مستقله توګه اباد شوي وي رجوعې هم دغه رائې لري مګر دوي د څوارلسمې صدۍ عيسوي اختتامي لمحې ترکيب پکاروي (۳۴)، دلته ورته مستقل اباديدل ځکه ووئېلے شول چې د تاريخي معلوماتو او شواهدو په رڼا کښې شيتک (اوس بنوڅي) بيا له دې ځايه چرته بل ځاي ته نۀ دي تللي بلکه دلته ئې د وخت جبر او سرې تودې ليدلې دي، بنوڅو په بنو کښې لا پښې نۀ وې سرې کړې چې تيمور لنګ په ۱۳۹۸ء کښې په دغه لاره راغللو او په پنجاب ئې حمله وکړله (۳۵) لازماً به ئې د بنوڅو سره معمولي جګړې کړې وي خو هر کله چې بنوڅي دلته نوي نوي اباد شوي وو نو د مزاحمت اميد ترې کم کېدلے شي په هرحال تيمورلنګ ورومبے يرغلګر وۀ چې بنوڅي ورسره د بنو په خاوره مخامخ شول دوېم يرغلګر چې بنوڅي ورسره لاس ګرېوان شوي وو ظهيرالدين بابر دے چې په ۱۵۰۵ء کښې د کوهاټ د بنګښو له لوري بنو ته راغلے دے بابر په بنو کښې د کران، کيوي، سور، عيسي خېل او د نيازيو ذکر کوي بنوڅو د بابر په خلاف مزاحمت کړے دے د انتقامي کارروائۍ په طور بابر ډېر بنوڅي مړۀ کړل او د دوي له سرونو ئې مينار جوړ کړلو (۳۶) بابر چې کله په هند کښې د مغل امپراتورۍ بنسټ کښېښودلو نو مغلو تر ډېره وخته په بنو ګوده نۀ ده لرلې البته يو روايت داسې شته چې د شاجهان زوي داراشکوه د سېل په غرض بنو ته راغلے وۀ د مختصر قيام نه پس واپس تللے وۀ (۳۸) ـ

دوه صدۍ مخکښې (۱۷۰۰ء) مونږ شهزاده عالم بهادر شاه ابنِ اورنګزېب چې د کابل ګورنر وۀ د خپلو مشيرانو په ترغيب په بنو کښې وينو (۳۸) شهزاده دلته د شاهکوټ قِلعه هم جوړوي او دارنګ

په وړومبني ځل د مغلو مداخلت په دې منطقه کښې په نظر راځي په دې پنځلسمه او شپاړسمه صدۍ عیسوي کښې ترڅو چې د بنو د مروتو او خټکو سره د تعلق خبره ده نو په دې وختونو کښې دوي دې قبیلو سره ضرور جنګېدلي دي ولې هر کله چې مروتو نیازیان له اباسین هغه خوا (Cis Indus) ته په تللو مجبور کړي دي او خټکو د پاره شمال مشرقي علاقه پرته ده نو د دې جهګړو او لانجو نوعیت هنګامي ښکاري خو بیا هم دا نشو وئیلے چې د دوي تر خپله منځه دښمنۍ نۀ وې په دې وخت کښې چې کله هم بنوڅو ته موقع په لاس ورغلې ده مغل ئې په قلاره نۀ دي پرې ایښي (۳۹) تر څو چې د درانیانو د حکومت تعلق دے نو په دې حقله ایس ایس تهاربورن لیکي: "په ۱۷۳۸ء کښې د نادرشاه د اردو یوې برخې پر هندوستان د بنو له لارې حمله وکړه او د (داوړو) درې څخه تېرشول پر بنوڅیو او مروتو ئې داسې ظلمونه وکړل چې هر ډول باج ورکولو ته تابع شول لس کاله وروسته احمدشاه بابا پوځ د دې سیمې داخل نه ننوت او د همدې لارې په تعقیب په کالاباغ کښې له اباسین څخه تېرشول" (۴۰) -

درانیانو کم وبېش تر اویاوو کالو پورې دا مشرقي صوبې تر اشغال لاندې ونیولې او خِراج به ئې ترې اخیستلو، بنو هم تردغه موده د درانیانو تر کنټرول لاندې وۀ او خراج به یې ترې ټولولو خو چې څومره د درانیانو اقتدار کمزورے کېدلو په دې مشرقي صوبو د دوي واک پاتې نشولو له دې حالاتو نواب حفیظ احمدخان فائده پورته کړله چې د مانکېرې د ریاست حکمران وۀ عیسي خېل (۱۸۱۸ء) او لکي مروت (۱۸۱۹ء) ئې هم قبضه کړل یو وخت ئې بنو ته دېوان مانک رائې ولېږلو چې مالیه راټوله کړي ولې د ناکامۍ سره مخ شولو -

په درانیانو پسې د سکهانو دور راځي په بنو کښې د سکهانو دور د ۱۸۲۳ء نه تر ۱۸۴۹ء پورې دے په ۱۸۲۳ء کښې رنجیت سنګهـ تر بنو راځي او دلته یوه دوه میاشتې تېروي بیا واپس کېږي، سکهانو هم لکه د مغلو په بنو مستقله قبضه ونۀ کړله بلکه وخت په وخت به راتلل او مالیه به ئې ټولوله بنوڅو په دغه وخت کښې څلورسوه کلي درلودل چې په هر کلي کښې به یوه قلعه هم وه له دې نه د بنوڅو د مزاحمت اندازه کېدلے شي (۴۱)، ۱۸۳۹ء کښې د رنجیت سنګهـ د مرګ سره د سکهـ حکومت اخري ورځې شروع شولې څه موده پس په تخت د رنجیت سنګهـ نابالغ زوي دلیپ سنګهـ کښېنولے شولو ولې هرڅه د انګرېزانو په لاس کښې وو د دې په نتیجه کښې د سِکهانو او انګرېزانو تر

منځه په ۱۸۴۵ء کښې جنګ وشولو او سِکهان په شا شول او د سکهه حکومت په ځاي په ۱۸۴۹ء کښې دربار کونسل په وجود کښې راغللو چې صدر ئې لارډ هِنري لارنس وۀ دې کونسل په مختلفو علاقو کښې خپل اسسټنټ رېذيډنټان مقرر کړل چې د علاقې د تور او سپين مالکان وو په دغه وخت بنو کښې کرنل ايډورډ اسسټنټ مقررشولو دارنګ د ۱۸۴۹ء نه دلته په بنو کښې د انګرېزي استعمار دوره شروع کېږي د انګرېزي استعمار دوره په دې حواله هم اهمه ده چې په دې کښې د بنو وزيرو ته دلته د رهائش قانوني حق ورکړے کېږي وزيرو اګرکه د اتلسمې صدۍ په اخري پاو کښې د بنوڅو په ځمکې د قبضې کولو هڅې کولې چې د سکهانو تر دورې هم مخکښې خبره ده ولې انګرېزان د انتظامي چارو له کبله د بنوڅو او خټکو په ضد د دوي پلويان وو لکه چې عقاب خټک صاحب ليکي: "انګرېزانو د خپلې عملدارۍ په ابتدايي ورځو شپو کښې د بنوڅو د محکوم کولو په غرض د دوي په ضِد د وزيرو لاس امداد حاصلولو د پاره دوي ته ډېر رعايتونه ورکړي وو چې پکښې يو دا دے چې د خټکو تقريباً ټول ټهل ئې وزيرو ته ورکړلو" (۴۲) او بيا ئې د خپلې خبره تائيد د پاره د کېرو په حواله ليکلي دي چې انګرېزانو ته د بنوڅو په خلاف د وزيرو د ملګرۍ او دوستۍ ضرورت وۀ (۴۳) دلته زما ذِهن ته يوه بله خبره راځي هغه دا چې په بنو کښې وزيرو ته د رهائش حق ورکولو سره سره جاګير ورکولو کښې د ايډوورډ غټ لاس دے، موصوف چونکه د خپل غرض د پاره د وزيرو مشر سهوان خان سره ملګري جوړه کړې وه او په خپل کتاب A year on the Punjab frontier کښې ئې د خپل ملګري بار بار ذکر کړے دے او داسې معلومېږي چې د بنوڅو د اصل نسل په حقله ئې چې څه ليکلي دي د دۀ خپل خيالات نۀ دي بلکه څنګه چې مخکښې هم ليکلي شوي دي د قبيلوي تعصب او حسد نتيجه ښکاري چې ايډورډ بغېر د تحقيق نه راخستي دي، ايدورډ به يو ښۀ منتظم وۀ ولې ښۀ مؤرخ او ماهرِانساب بېخي نۀ وۀ او ما په ورومبي ځل د جديد دور يو مستشرق داسې ليدلے دے چې د بنوڅو په حواله ئې له ليکنو د تعصب بوي راځي وروستو همدغه حوالې تهاربورن او اوليور (Oliver) او نورو راخيستي دي په هر حال دا يوه ګوښې موضوع ده چې د تحقيق تقاضا کوي اوس بيا د خپل بحث په لور راګرځو-

په بنو د انګرېزي استعمار دوره له نورو وطني او غېروطني يرغلګرو مکمله بدله ده چې دا قبضه مستقله او منظمه وه په دا وخت دليپ سنګهه د پنجاب قانوني راجا وۀ ځکه هم په دغه کال يعني

۱۸۴۸ء کښې د بنو د موجوده ښار بنیاد کښېښودے شولو او نوم ورته دلیپ نِګر یا دلیپ ګړهـ ورکړے شولو او دارنګې دلته یوه قِلعه هم جوړه کړے شوه چې د هغې نوم دلیپ فورټ شولو (۴۴) د سکهانو دویم جنګې کښې بنو د سکهانو تر کنټرول راغلو خو لږه موده پس انګرېزانو ترې بېرته واخیستلو او سکهانو د دور هغه د نوم حکومت هم خپل منطقي انجام ته ورسېدلو، ۱۸۴۹ء کښې د بنو نوم دلیپ ګړهـ نه ایډورډ اباد شولو او ډېره اسماعیل خان او بنو یوه ضلع جوړه کړے شوه د دې تفصیل ایس ایس ټهاربورن داسې راکوي: "په دې وخت کښې یو ډسټرکټ (لویه اولسوالي) د ډېره اسماعیل خان په نوم تشکیل شوه چې مرکز ئې دلیپ ګړهـ وۀ په هغې کښې اوسنے ډېره اسماعیل خان، د اباسین د دوارو خواو منطقه او بنو شامل وو" (۴۵) -

د انګرېزي استعمار په اولنۍ دوره کښې ترڅو چې د عوامو تعلق دے نو په دغه وختونو کښې دلته د انګرېزانو قبضه پخه شوې وه د جنګې جهګړو خبرې د انګرېزانو په ضِد په اعلانیه توګه ختمې شوې وې، چونکه عوام د ملکانو او خانانو تر امر لاندې وو او دا خلق حکومت خوشحاله ساتل ځکه نو د ازادۍ د جنګې په وخت کښې هم څه داسې حالات نۀ شول پیښ چې د ذکر وړ وي البته په انتظامي توګه یوه واقعه چې ۱۸۶۱ء سره تعلق لري د لیکلو قابله ده هغه دا چې په دې کال بنو ځان ته ضلع شوله چې پکښې دا څلور تحصیلونه وو: (۱) تحصیل بنو (۲) تحصیل لکي مروت (۳) تحصیل عیسي خېل (۴) تحصیل میانوالي، ۱۸۸۵ء په دې لحاظ اهم کال دے چې په دې کال هیوم د کانګرس بنیاد کښېښودلو د بنوڅو مشرانو هم په دې پارټۍ کښې تر خپله وسه رول لوبولے دے د بنو مشرانو د خلافت په تحریک (۱۹۱۹ ء) کښې حصه اخستې ده او دلته باقاعده کمېټۍ جوړه شوې وه او دارنګې بنوڅو په هجرت کښې هم برخه لرله وروستو ۱۹۲۹ء کښې دا کمېټۍ په کانګرس کښې مدغم شوله او بنوڅو د کانګرس د جهنډې لاندې د ازادۍ بېرغ هسک ساتلو په ۱۹۳۰ء کښې په سپینه تنګۍ کښې چې کومه حادثه پیښه شوله په هغه کښې د وزیرو او خټکو سره بنوڅي هم شامل وو (۴۷) په راتلونکیو کالونو کښې هم بنوڅو د انګرېزي استعمار خلاف احتجاجونه او جلسې کولې او په دې سلسله کښې به ګرفتار کېدل په ۱۹۳۲ء کښې د رام کوري (وروستو اسلام بي بي) د مسلمانېدو واقعه وشوله چې په نتیجه کښې ئې دلته د بغاوت شعلې اوچتې شولې او د فقیر اپي تحریک شروع شولو فقیراپي د انګرېزانو سره وخت په وخت جنګونه کول د دې تحریک

مرکز ا کړکه په وزیرستان کښې وۀ ولې بنوځو په دې جنګونو کښې د حاجي صاحب ملاتړ کولو په ۱۹۳۷ء کښې مونږ په بنو کښې د مسلم لیګ نخښې نخښانې وینو (۴۸) یعني په دغه کال مونږ بنوځي د پاکستان تحریک په حق کښې ګورو د وخت د تېرېدلو سره سره دې تحریک زور نیولو او هغه ورځ هم راغلله چې د تقسیمِ هند په نوم یادېږي او د دنیا په نقشه د پاکستان نوم په ورومبي ځل راغللو د قیام پاکستان نه پس بنوځو د نوي ملک د پرمختګ د پاره هر قسم کوښښونه کړي دي او د نورو پښتنو نه په څه حواله هم شاته نۀ دي راغلي -

## ماخذونه


۱: سیفي، ګل ایوب خان، تاریخ بنوں وزیرستان ، د ناشرنوم اؤ اشاعت ځاي او نېټه نۀ لري، ص- ۳۲

۲: Agricultural statistice NWFP for 1999-2000; P: 9

۳: د زرعي شماریاتو (بنوں) د محکمې افسر نادرخان علیل صاحب سره په ۲ فروري ۲۰۰۸ء مرکه

۴: افغاني، محمدحیات خان، حیات افغاني، ګلوب پبلیشرز، لاهور، د اشاعت سن ندارد، ص: ۵۷۳

۵: ایضا

۶: شېرمحمد خان سردار، ګنډه پور، تاریخ پشتون، (مترجم) سراج احمد علوي، شېخ شوکت علي اینډ سنز، کراچي، ص: ۵۸۲

۷: Raverty, Major Henry George, Notes On Afghanistan and Baluchistan, Gosha- Adab, Quetta, 1976, pp: 317-318

۸: ظفر، بهادر شاه ، کاکاخېل، پښتانۀ د تاریخ په رڼا کښې ، یونیورسټي بک ایجنسي، پښور، سن اشاعت نۀ لري، ص: ۳۰۸

۹: Raverty, Major Henry George, Notes On Afghanistan and Baluchistan, P: 319

۱۰: هروي ، نعمت الله، خواجه، تاریخ خان جهاني ومخزنِ افغاني (مترجم) ډاکټر محمد بشیر حسېن، مرکزي اردو بورډ لاهور، اګست ۱۹۷۸ء ص: ۶۲۸

۱۱: افغاني، محمد حیات خان، حیات افغاني: ص: ۵۷۳

۱۲: شېر محمد خان، سردار، ګنډه پور، تاریخ پشتون،۰(مترجم) سراج احمد علوي ، ص ص: ۵۸۱-۵۸۲

۱۳: ایضا، ص: ۵۸۲

۱۴: سیفي، ګل ایوب خان، تاریخ بنوں وزیرستان، ص: ۲۴

۱۵: Gazetteer of the Bannu District 1883-84, Sang- E- Meel Publication, Lahore, 1989, P ; 30

۱۶: هروي ، نعمت الله، خواجه تاريخ خان جهاني ومخزن افغاني (مترجم) سراج احمدعلوي ، ص ص: ۴۲۷
۱۷: افغاني، محمد حيات خان، حيات افغاني. ص :۳۷۱
۱۸: ايضا
۱۹: کېرو، سراولف، دي پټهانز (مترجم) شېر محمد کريمي، دانش خپروندويه ټولنه، پښور، ۲۰۰۴ء، ۴۲
۲۰: کامل، دوست محمد خان، خوشحال خان، اداره اشاعت سرحد، پښور، ۱۹۵۱ء، ص: ۲
۲۱: کېرو، سراولف، دي پټهانز (مترجم) محمد کريمي، ص: ۴۲
۲۲: خاد م، قيام الدين، لرغوني پښتانۀ قومونه، د ناشر نوم اؤ د اشاعت مقام نۀ لري، ۱۳۵۳ هـ، ص:۱۹
۲۳: ايضا
۲۴: کېرو، سر اولف، دي پټهانز (مترجم) شېر محمد کريمي، ص: ۲۰
۲۵: ايضا، ص: ۲۷
۲۶: ايضا، ص ص: ۲۷-۲۹
۲۷: Ridgway, Major R.T.I, Pathans, Saeed Book Bank,Lahore, 1983, P; 1
۲۸: خادم، قيام الدين، لرغوني پښتانۀ قومونه، ص: ۲۹
۲۹: Ridgway, Major R.T. I, Pathans, P:2
۳۰: ظفر، بهادرشاه، کاکاخېل، پښتانه د تاريخ په رڼا کښې، ص: ۱۵۰
۳۱: ايضا، ص: ۳۱۳
۳۲: Ridgway, Major, R.T. I, Pathans, PP: 4-5
۳۳: کامل، دوست محمد خان، خوشحال خان خټک، ص: ۴
۳۴: Ridgway, Major, R.T. I, Pathans, P: 5
۳۵: Gazetter of the Bannu district, 1883-84, P: 28
۳۶: بابر، ظهيرالدين، تزکِ بابري (مترجم) رشيد اختر ندوي، سنګِ ميل پبلي کېشنز، لاهور، ۱۹۸۸ء، ص: ۹۹
۳۷: سېفي، ګل ايوب خان، تاريخ بنوں وزيرستان، ص: ۲۹
۳۸: Raverty, Major, Henry George, Notes on Afghanistan and Baluchistan, P: 42
۳۹: سېفي، ګل ايوب خان، تاريخ بنوں وزيرستان، ص: 30
۴۰: تاربورن، اِس اِس بنو يا زمونږ افغاني سرحد (مترجم) شېرمحمد کريمي، د پښتني فرهنګ د ودې او پراختيا ټولنه جرمني، پېښور، ۱۹۹۸ء، ص: ۳۲
۴۱: ايضاُ، ص ص: ۲۵-۲۶
۴۲: عقاب، سرفرازخان، خټک، د ناشر نوم او د اشاعت ځاي نۀ لري، ۱۹۶۴ء، ص: ۱۵۵

۴۳: ایضاً، ص ص: ۱۵۶
۴۴: سپفي، ګل ایوب خان، تاریخ بنوں وزیرستان، ص: ۵۸
۴۵: تاربورن، اِس اِس بنو یا زمونږ افغاني سرحد (مترجم) شېرمحمد کریمي، ص: ۴۶
۴۶: افغاني، محمد حیات خان، حیاتِ افغاني، ص : ۵۶۸
۴۷: سپفي، ګل ایوب خان، تاریخ بنوں وزیرستان، ص ص: ۷۰-۹۳
۴۸: ایضاً، ص ص: ۱۳۷